# د ملي کارګر د چارو د قانون د لاندې

## د کارګر حقوق

د ملي کارګر د چارو قانون (NLRA) د کارګرانو د حق تضمين ورکوي ترڅو د خپل کارفرمايانو سره په ګډه تنظيم او معامله وکړي او همدغه راز په ګډه جوړ شوي محفوظ بل فعاليت کې برخه واخلي يا په پورتني فعاليت کې د برخه اخيستلو څخه ډډه وکړي. هغه کاګران کوم چې د NLRA* لخوا خوندي شوي وي، د کارفرما او اتحاديې د ځيني ناوړه ډول چلند څخه محفوظ وي. دا خبرتيا د NLRA سره سم تاسو له ستاسو د حقوقو او د کارفرمايانو او اتحاديو د مسؤليتونو په اړه عمومي معلومات درکوي. که چيرې تاسو د څه داسې ځانګړي حقوقو په اړه پوښتنې درلودئ کوم چې ستاسو د ځانګړي کار په ځای کې تطبيق کيږي، نو لاندې ورکړای شوي د تماس د معلوماتو څخه په استفادې پورته کولو، د ملي کارګر د چارو د پلاوي (NLRB)، د هغه فدرالي اژانس سره اړيکې ټينګې کړئ کوم چې د NLRA سرسم د شکايتونو پلټنه کوي او دا له منځه وړي.

### د NLRA د لاندې تاسو حق لرئ چې:

- د خپل کارفرما سره د خپلې اجورې، کاري ساعتو او د استخدام د نورو قواعدو او شرايطو په اړه د خبرې اترې کولو په موخه يوه اتحاديه جوړه کړئ.
- يوه اتحاديه جوړه کړئ، مرسته ورسره وکړئ يا ګډون په کې وکړئ.
- د خپلې خوښې د کارګرانو د استازو په واسطه د خپل کارفرما سره د تړون کولو په موخه په ګډه قرارداد وکړئ، چې ستاسو اجورې، امتيازونه، کاري ساعتونه، او نور کاري شرايط په کې برابر کړای شي.
- د خپلې اجورو، امتيازونو او د استخدام د نورو قواعدو او شرايطو يا د اتحاديې د جوړولو په اړه د خپلو نورو همکارانو يا د اتحاديې سره بحث وکړئ.
- د خپل يو يا زياتو همکارانو سره د خپل کار د وضعيتونو د ښه کولو په موخه اقدام وکړئ، ترڅو د کار اړوند شکايتونه نيغ په نيغه خپل کارفرما يا دولتي اژانس ته ورسوئ او د اتحاديې څخه مرسته وغواړئ.
- د اعتصاب يا د څارلود هدف او اسبابو پر اساس اعتصاب او څارنه وکړئ.
- ددې فعاليتونو نه ترسره کولو انتخاب وکړئ، پشمول ددې چې په يوه اتحاديه کې شامل شئ يا ددې غړی پاتې شئ.

### د NLRA سره سم ، ستاسو د کارفرما لپاره دا غيرقانوني ده چې:

- په غير کاري وختونو کې ، لکه د کار د مخه يا وروستو يا د وقفې په وختونو کې، تاسو د يوې اتحاديې لپاره د خبرو کولو يا مرستې کولو څخه منع کړي، يا په غيرکاري وختونو کې په غير کاري سيمو، لکه د ګاډو د دريدلو ځای يا د وقفې په خونو کې د اتحاديې د ليکنو د ويشلو څخه مُو منع کړي..
- ستاسو څخه ستاسو د اتحاديې د ملاتړ يا فعاليتونو په اړه پوښتنه په داسې ډول

### د NLRA سره سم ، د يوې اتحاديې يا د هغه اتحاديې چې ستاسو د کارفرما سره د قرارداد په موخه ستاسو نمايندګي کوي، لپاره دا غيرقانوني ده چې:

- د اتحاديې لپاره ستاسو د مرستې ترلاسه کولو په موخه تاسو تهديد کړي يا دربانديې فشار واچوي.

وکړي کوم چې تاسو په دغه فعالیت کې د برخه اخیستلو څخه بې جراته کوي.

- تاسو له کاره وباسي، کاري رتبه مو ټیټه کړي یا مو بل ځای ته بدل کړي، یا درله کاري ساعتونه کم کړي، یا مو کاري وخت بدل کړي، یا همدغه راز ستاسو پرضد ناوړه اقدام وکړي، یا مو په دې تهدید کړي چې دغه پورته فعالیتونه به ستاسو پرضد وکړي، له دې امله چې تاسو په یوه اتحادیه کې شامل شوي یئ یا مو ورسره مرسته کړې ده، یا تاسو د ګډې مرستې او تحفظ لپاره په یو ګډ فعالیت کې برخه اخیستې ده، یا تاسو په داسې فعالیت کې برخه اخیستل نه غواړئ.
- تاسو تهدیدوي چې که کارګران د خپلې نمایندګۍ لپاره په یوه اتحادیه کې شامل شو، نو ستاسو د کار ځای به وتړي.
- د اتحادیې د ملاتړ د تشویقولو یا بې جراته کولو په موخه ستاسو ترقي وکړي، تنخا مو زیاته کړي، یا نور امتیازونه درکړي یا درسره ددې ژمنه وکړي.
- د اتحادیې د ټوپۍ په سرولو، بټنو، ټې شرټونو، یا سنجاقونو اچولو څخه مو پرته له کوم ځانګړي وضعیتونو څخه د کار په ځای کې منع کړي.
- د اتحادیې د سوله بیز فعالیتونو او غونډو جاسوسي یا ویډیو ریکارډنګ وکړي یا دداسې کولو پلمه وکړي.
- ستاسو د شکایت د هوارولو څخه انکار له دې امله وکړي چې تاسو د اتحادیې په مامورینو انتقاد کړای یا ددغې اتحادیې غړی نه یئ.
- د استخدامولو په خونه کې د کار ورکولو په حوالو کې د توپیر د معیارونو یا کړنلارو استعمال کوي یا ساتي.
- یو کارفرما اړ کوي یا یې د اړکولو کوښښ کوي چې ستاسو څخه ستاسو د اتحادیې اړوند فعالیت له کبله د توپیر نه کار واخلي.
- ستاسو پرضد ناوړه اقدام وکړي ځکه تاسو په اتحادیه کې شامل شوي نه یئ یا مو ورسره مرسته نه ده کړې.

**که چیرې تاسو او ستاسو همکاران یوه اتحادیه منتخب کړي ، چې ستاسو د معاملاتو لپاره به ستاسو د ګډ استازي په توګه کار کوي، نو ستاسو کارفرما او دغه اتحادیه باید په ښه نیت قرارداد وکړي او رښتیني کوښښ وکړي ترڅو یو داسې لیکل شوي حتمي موافقې ته ورسي په کوم کې چې ستاسو د وظیفې قواعد و شرایط برابر شوي وي. د موافقې په جوړولو او تعمیلولو کې اتحادیه باید په عادلانه توګه ستاسو نمایندګي وکړي.**

**د غیرقانوني چلند اجازه به نه ورکول کیږي.** که چیرې تاسو فکر کوئ چې ستاسو یا د نورو خلکو حقوق د پښو لاندې کیږي، نو تاسو باید د NLRB سره سمدلاسه اړیکې ټینګې کړئ ، ترڅو ستاسو د حقوقو،عموماً د غیرقانوني فعالیت څخه په شپږو میاشتو کې دننه، تحفظ وکړي. تاسو د ممکنه سرغړونو په اړه د خپل کارفرما یا بل کوم کس د پلټنې څخه د خبرولو پرته پلټنه کولای شئ. تورونه هرڅوک بشپړولای شي، البته د سرغړوني څخه اغیزمن شوی قرباني کس به یې په خپله مستقیماً نه شي بشپړولای. NLRB یو کارفرما له امر ورکولای شي چې هغه کارګر بیا اجیر کړي کوم چې د قانون سرغړونه کړې ده او د هغه پاتې شوي اجورې او امتیازونه هغه ته ادا کړي، او همدارازیوه کافرما یا اتحادیې ته امر کولای شي چې د قانون سرغړونه بنده کړي. کارګران باید د NLRB د نږدې دفتر څخه د مرستې ترلاسه کولو په موخه اړیکې ټینګې کړي، دغه دفترونه د اژانس په ویب پاڼې په دې ادرس موندل کیدای شي: **http://www.nlrb.gov**.

تاسو ټول فري ته په زنګ وهلو سره هم د NLRB سره په دې شمیره اړیکې ټینګولي شئ: **1-866-667-NLRB (6572)** یا په غوږونو د درنو کسانو لپاره په دې شمیره: **(1-866-315-6572) (TTY) 1-866-315-NLRB**

If you do not speak or understand English well, you may obtain a translation of this notice from the NLRB's Web site or by calling the toll-free numbers listed above.

*د ملي کارګر د چارو قانون زیاتره د خصوصي سیکتور د کارفرمایانو تحفظ کوي. د NLRA سره سم د تحفظ څخه ویستلي شوي د دولتي سیکتور کارګران، د بزګری او کورني کارګران، خپلواک قراردادیان ، او همدارنګه هغه کارګران دي چې مور او پلار یا ښځې خاوند استخدام کړي وي، د هوایي او اورګاډي ورونکي کارګران د اورګاډي د کارګر د قانون د تحفظ لاندې راځي، او همدارنګه څارونکي دي ( البته هغه څارونکي چې د هغوی پرضد توپیر په دې موخه شوی وي چې هغوی د NLRA د سرغړوني څخه انکار کړای دی، هغوی له به تحفظ ورکول کیږي).

**دا د دولت اداري خبرتیا ده او باید هیڅ څوک هم دا خرابه نه کړي.**